عمومي اسامبله
امنیت شورا

خپرېدل: عمومي
۲۷ فبروري۲۰۲۳
اصل: انګلیسي

**عمومي اسامبله**
**اووه اویایمه ناسته**
د اجنډا ۳۴ ماده
**په افغانستان کې وضعیت**

**امنیت شورا**
**اووه اتیایم کال**

## په افغانستان کې وضعیت او پر نړیوالې سولې او امنیت یې اغیزې

## د سرمنشي راپور

### لومړی. مقدمه

۱. دا راپور د عمومي اسمبلۍ د ۶۸/۱۱ ګڼه پرېکړه لیک او د امنیت شورا د ۲۶۲۶ (۲۰۲۲) ګڼه پرېکړه لیک پر بنسټ سپارل شوی دی، چې په کې له سرمنشي غوښتل شوي څو په هرو دریو میاشتو کې د افغانستان د وضعیت او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي (یوناما) د ماموریت د تطبیق په اړه په محلي کچه راپور ورکړي.

۲. دا راپور د ۲۰۲۲ کال د ډسمبر په ۷ نېټه خپور شوي راپور (A/77/636-S/2022/916) راهیسې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د کړنو لکه سیاسي، بشردوستانه، او بشري حقونو هڅو په هکله تازه معلومات، او دغه راز د یوناما د ماموریت لپاره ستراتیژیکې او عملیاتي سپارښتنې هم وړاندې کوي.

### دویم: اړوند بدلونونه

۳. د طالبانو برحاله چارواکي لا هم د نورو محدودوونکو اقداماتو او تدابیرو ترسره کولو له لارې په خلکو باندې خپل کنټرول سختوي. د ۲۰۲۲ کال په ډسمبر کې د ښځو پر لوړو زده کړو او په ملي او نړیوالو سازمانونو او ادارو (انجوګانو) کې د دوی د کار کولو بندیزونو اعلان د ښځو او انجونو بنسټیز حقونه نور هم راکم کړل. په عراق او ختیځ خراسان کې د اسلامي دولت (ISIL-K) ډلې د څو سترو بریدونو ادعا کړې، چې پکې ملکي وګړي، طالبان او بهرني وګړي په نښه شوي دي. یوناما بیا هم د برحاله چارواکو لخوا د پخواني دولت چارواکو او امنیتي پرسونل پر وړاندې د غیر قانوني وژنو، خپلسري نیونو او توقیف، ربړونې او ناسم چلند پېښې ثبت کړې، چې د ۲۰۲۱ کال د اګسټ میاشتې د عمومي بښنې څخه سرغړونه ده. یوناما همدا راز د برحاله چارواکو لخوا واک ته له رسېدو وروسته، د قضایي بدني مجازاتو په تطبیق کې زیاتوالی او د لومړي ځل لپاره د قضایي پلوه بند شوي عام محضر کې اعدام پېښې مستند کړې دي. برحاله چارواکو د سوداګرۍ په ګډون د نورو برخو څخه د عوایدو په راټولو کې د زیاتوالی راپور ورکړی او پر اقتصادي ځان بسیاینې باندې لا هم ټینګار او تمرکز لري. بشري اړتیاوې په توله کې د زیاتېدو په حال کې دي؛ سره له دې چې، په ۲۰۲۳ کال کې د اټکل له مخې د بشردوستانه مرستو لپاره د اړمنو خلکو شمېر ۲۸،۳

میلیونه تنو ته رسېږي، چې د ۲۰۲۲ کال د ۲۴،۴ میلیونو او په ۲۰۲۱ کال کې د ۱۸،۴ میلیونو تنو په پرتله زیاتوالی ښيي. پر ښځینه مرستندویه کارکوونکو بندیز زیات سازمانونه او اداري دې ته اړ کړل څو خپلې چارې ودروي، چې پر اړمنو وګړو او په تېره بیا ښځو او انجونو باندې ناوړه اغېزه کوي، سره له دې چې، د برحاله چارواکو لخوا په دې برخه کې محدود شمېر غیر رسمي معافیتونه هم ورکړل شول. دغو محدودیتونو د ۲۰۲۳ - ۲۰۲۵ کالونو لپاره د افغانستان لپاره د ستراتیژیک چوکاټ جوړول له ځنډ سره مخ کړي، چې د لیرې کولو لپاره يې له برحاله چارواکو سره رواني خبرې اترې لا هم کومې پایلې ته ندي رسیدلي.

**الف. سیاسي بدلونونه**

۴. برحاله چارواکو د ۲۰۲۲ کال په پای کې یو شمېر پرېکړې وکړې، چې د ښځو او انجونو حقونه نور هم محدودوي. د برحاله د لوړو زده کړو وزارت د کانکور په ازموینه کې ښځینه زده کوونکو ته د ګډون اجازې له ورکولو څو اونۍ وروسته، د ډسمبر په ۲۰ نېټه د برحاله د کابینې پرېکړې په تړاو یو مکتوب صادر کړ، چې تر امر ثاني پورې د ښځو لپاره لوړې زده کړې ځنډوي او تر هغه وخته به دوام مومي څو د افغاني کلتور سره سم یو مناسب شرعي چاپېریال رامنځته شي. د برحاله د پوهنې وزارت د جنورۍ په ۸ نېټه یو مکتوب خپور کړ چې پکې برحاله چارواکو ته لارښوونې شوې وې څو په هغو ولایتونو کې تر شپږم ټولګي پورې د انجونو ښوونځي، روزنیز مرکزونه او مدرسې، د انجوګانو لخوا تطبیق کېدونکو جواز لرونکو ښوونځیو او ټولګیو په ګډون، بیا پرانیزي چې له دې مخکې هلته بند و. د برحاله د لوړو زده کړو وزارت د جنورۍ په ۲۸ صادر شوي مکتوب کې خصوصي پوهنتونونو او د لوړو زده کړو مرکزونو ته لارښوونې کړې چې تر بلې خبرتیا پورې دې پوهنځیو ته د جذب لپاره د ښځینه زده کوونکو د ازموینې نوملیکنه نه کوي، چې په دې توګه د لوړو زده کړو په خصوصي مؤسسو کې هم د دوی د زده کړو مخه ونیول شوه. د برحاله د لوړو زده کړو وزارت معین، لطف الله خېرخواه د فبرورۍ په ۵ نېټه اعلان وکړ چې د شریعت مطابق د انجونو د لوړو زده کړو لپاره د یوې حل لارې پیداکولو پر تګلاره باندې يې کار پیل کړی دی.

۵. د برحاله د اقتصاد وزارت د ډسمبر په ۲۴ نېټه د افغانانو لپاره د بشري او پرمختیایي مرستو د همغږۍ اداري (اکبر) ته یو مکتوب ولېږه، چې له مخې يې افغان مېرمنې په ملي او نړیوالو انجوګانو کې له کار کولو څخه منع شوې او یادونه پکې شوې وه چې په دغو انجوګانو کې د حجاب او نورو نا څرګندو اصولو څخه سرغړونه شوې وه. د برحاله اداري ویاند، ذبیح الله مجاهد د ډسمبر په ۳۰ نېټه د رسنیو استازو ته خبر ورکړ چې برحاله چارواکي به د وخت اړتیا ته په پام سره ښځو ته د کار اجازې ورکولو په اړه پرېکړه وکړي. د یادونې وړ ده چې د روغتیا او لومړنیو زده کړو په برخو کې له دغه بندیز وروسته ځینې محدود معافیتونه هم ورکړل شوي دي.

۶. دغه محدودیتونه په پراخه کچه د نړیوالې ټولنې لخوا وغندل شول. د سرمنشي په غوښتنه د هغه مرستیال د یو پلاوي په مشرۍ چې د جنسیتي مساوات او د ښځو ځواکمنتیا لپاره د ملګرو لمتونو اداري یا (Un-Women) اجرائیه رئیس او د منځنې ختیځ، آسیا او پاسفیک برخې لپاره د سرمنشي مرستیال یې هم ملتیا کوله، د جنورۍ له ۱۷ څخه تر ۲۰ نېټې پورې افغانستان ته سفر وکړ. د دغه پلاوي د سفر موخه مستقیمه توګه زیانمنو شوو مېرمنو او بشردوستانه ټولنې سره د یووالي ښودل او له دوی سره سلا مشوره کول، او همدارنګه د زیاتې اندیښنې ښودل او له برحاله چارواکو سره د وروستیو بندیزونو په هکله بحث او خبرې اترې کول و. یاد پلاوي همدا راز د علماوو له شورا، زیانمنو شوو ټولنو، بشردوستانه کارکوونکو او مدني ټولنې، په ځانګړې توګه ښځو او د ښځو په مشرۍ سازمانونو سره په کابل کې ولیدل. د دې ترڅنګ، یاد پلاوي په پاکستان او ترکیه کې د افغان مېرمنو له ټولنو سره هم بحثونه او خبرې اترې وکړې او په افغانستان کې د وضعیت په هکله د بحث په موخه

يې په خليج هيوادون، آسيا او اروپا کې د لوړې کچې مشورتي غونډې هم وکړې. د ملګرو ملتونو بين الاداري دايمي کمېټې يو پلاوي د بشردوستانه مرستو په چارو او د بيړنو مرستو همغږۍ په برخه کې د سرمنشي د مرستيال په مشرۍ له افغانستان څخه تعقيبي ليدنه وکړه څو په بشردوستانه چارو کې د ښځينه مرستندويه کارکوونکو پر کار د بنديز پایلو په اړه له برحاله چارواکو سره تعامل او خبرو اترو ته دوام ورکړي.

۷. د طالبانو مشر هبت الله اخندزاده لا هم پر حکومتي مسايلو خپل نفوذ ساتلی او په ملي او محلي کچه يې برحاله لوړ پوړي چارواکي تغير او تبديل کړي دي. د برحاله د ټولګټو وزير، عبدالمنان عمري د جنورۍ په ۱۶نېټه د برحاله د کار او ټولنيزو چارو وزير په توګه تبديل شو او پر ځای يې د اوبو او انرژۍ وزير، محمد عيسى ثاني د وزير په توګه وټاکل شو. په نورو ملکي ګمارنو کې پنځه وزيران لکه، د لوړو زده کړو، ښاري پراختيا او اراضۍ، امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزيران او د پېښو پر وړاندې مبارزې ملي ادارې رئيس او د کابل والي او پنځلس ولسوالان ګمارل شوي دي. د يادونې وړ ده چې دغو بستونو ته ټول نارينه او د طالبانو سره تړاو لرونکي کسان ګمارل شوي دي.

۸. د برحاله د مالېې وزارت د ۲۰۲۲ کال تر ډسمبر ۲۲ نېټې پورې د ټولو ملکي مامورينو او امنيتي پرسونل د معاشونو د ورکړې لړۍ بشپړه کړه. په دوی کې هغه ښځينه ملکي مامورينې هم شامل دي، چې زيات شمېر يې واک ته د طالبانو له رسېدو وروسته دندو ته نه پرېښودل کېږي. دوی همدا شان د جمهوريت پر مهال حکومتي ادارو ملکي کارکوونکو چې اوس يې تشکيل ختم شوی دی، معاشونه هم ورکړي دي.

۹. د برحاله چارواکو لخوا د دولتي ادارو په تشکيل کې د بدلونونو راوستل لا هم دوام لري. د طالبانو مشر هبت الله اخندزاده د نومبر په ۱۶ نېټه يو فرمان صادر کړ، چې له مخې يې د اداري فساد پر وړاندې مبارزې عدلي مرکز قضايي واک د برحاله نظامي محکمې ته ولېږدول شو. د ملي تدارکاتو کميسيون د ۲۰۲۲ کال د ډسمبر په ۱۳ نېټه د يو فرمان له صادرېدو سره سم، چې مخکې د طالبانو لخوا لغوه شوی و، بېرته ايجاد شو. برحاله چارواکو د جنورۍ په ۱۰ نېټه تائيد کړه چې، د اکتوبر په ۱۳ نېټه دوی د مشر له حکم سره سم يې د عدلېې وزارت په چوکاټ کې د حقوقو عمومي رياست د برحاله سترې محکمې ته لېږدولی دی.

۱۰. د برحاله د کورنيو چارو وزارت د ډسمبر په ۲۹ نېټه اعلان وکړ، چې په محلي کچه يې په ټول هېواد کې ۲۵ نوې ولسوالۍ تأسيس کړي دي چې په دې سره د برحاله چارواکو د راپور له مخې په ټول هېواد کې د ولسواليو ټوليز شمېر ۴۱۹ ته ورسېد. د دوی په خبره، د دغو ولسواليو د جوړولو موخه خدمتونو ته د لاسرسي ښه والی او زياتوالی بلل شوی دی. د طالبانو مشر، هبت الله اخندزاده په کابل، کاپيسا، بغلان، فارياب، ارزګان او خوست ولايتونو کې د علماوو نوې شوراګانې جوړې کړې څو د برحاله له ادارو څخه څارنه وکړي. تر دا مهاله د ټولو ۲۲ جوړو شوو شوراګانو څخه ۱۵ يې په رسمي توګه منظور شوي او تائيد شوي دي.

۱۱. له هېواد دننه او بهر سياسي مخالفو ډلو د بين الافغاني خبرو اترو د پيلولو لپاره لا هم خپلو غوښتنو ته دوام ورکړی، او د راپور ورکونې مودې پر مهال په تبعيد کې يا له هېواده بهر څلور نور سياسي حرکتونه جوړ شوي دي. د برحاله وياند، ذبيح الله مجاهد د جنورۍ په ۱۷ نېټه وويل چې دغه حرکتونه د تېر فصل استازولي کوي او په اوسني واقعيت پورې هيڅ تړاو نلري. برحاله چارواکو په بيلابيلو کچو له سياسي فعالانو او د افغانستان دننه حرکتونو سره په ځانګړې توګه د خبرو اترو او ناستو هڅې زياتې کړي دي. په ځانګړې توګه د برحاله د رياست الوزراء مرستيالانو، مولوي عبدالکبير او عبدالسلام حنفي په ملي

کچه له سیاسي فعالانو سره ناستې کړې دي. د پخواني حکومت چارواکو او سیاسي څېرو سره د تماس او بېرته راستنېدو کمیسیون د جنورۍ په ۱۶ نېټه اعلان وکړ چې د دوی د هڅو په لړ کې ۴۷۵ تنه افغانستان ته راستانه شوي دي.

۱۲. د برحاله لوړ پوړو چارواکو پر ټولنو او اقتصادي پروژو د تمرکز په موخه ولایتونو او ولسوالیو څخه خپلې لیدنې زیاتې کړې دي. په ځانګړې توګه، د برحاله د سرحدونو او قومونو او قبایلو چارو وزارت چارواکو له قومي مشرانو او اقلیتونو سره په دې موخه خپلې ناستې او خبرې اترې کړې چې ملي یووالی لا زیات او تقویه شي. پر ښځو لوړو زده کړو ته د لاسرسي بندولو وروسته د برحاله د لوړو زده کړو وزیر، ندا محمد ندیم له ځایي برحاله چارواکو، قومي مشرانو او د پوهنتون استادانو سره په تعلیمي نظام کې د اصلاحاتو په هکله ناستې او خبرې اترې کړې دي. نوموړي د ډسمبر په ۴ نېټه د طب، اسلامیاتو او قانون برخو په ګډون بیلابیلو تعلیمي رشتو لپاره د اصلاح شوي نصاب او د بیاکتنې د پای ته رسېدو اعلان وکړ. د برحاله د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال، عبدالغني برادر د وزارتونو څخه جوړ یو پلاوي په مشرۍ د کانونو او پټرولیم وزیر، شهاب الدین دلاور په ملتیا په نومبر میاشت کې په لوګر ولایت کې د عینکو د مسو کان او په جنورۍ میاشت کې له شمالي ولایتونو څخه لیدنه وکړه، چې موخه یې د کانونو د استخراج قراردادي شرکتونو د امنیت کتل و. د برحاله د کرنې اوبو لګولو او مالدارۍ وزیر، عطاء الله عمري په ډسمبر او جنورۍ میاشتو کې شمالي ولایتونو ته سفر وکړ څو په سیمه کې د اوبو د یوې مهمې سرچینې، آمو سیند د غاړو ښوئیدل له نږدې و ارزوي.

۱۳. د حقوقي چوکاټ په اړه د وضاحت د نشتون سربېره، لا هم د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون ځنډېدلی دی. د برحاله د عدلیې وزارت د نومبر په ۵ نېټه د ۲۰۲۱ کال د اګسټ له ۲۱ راهیسې د لومړي ځل لپاره رسمي جریده خپره کړه، چې پنځه فرمانونه یې درلودل، چې یو یې د قوانینو، مقرراتو او کړنلارو جوړولو لپاره یو طرزالعمل دی. برحاله چارواکو د جنورۍ په ۱۰ نېټه د دوی د مشر، هبت الله اخندزاده هغه پرېکړه شریکه کړه، چې د پخواني جمهوري حکومت پر مهال ټول ترتیب شوي قوانین او مقررات له دې امله ملغاء دي چې له شریعت سره په ټکر کې دي. د ملګرو ملتونو د ښځو دفتر (UN-Women) لخوا د شوې څېړنې سره سم په غیر رسمي او رسمي عدلي سیستم کې د پام وړ خنډونو سربېره، د ښځو پر حقونو له پراخو بندیزونو سره دا تر ډېره ناشوني ده چې ښځې او انجونې عدالت ته لاسرسی ولري. ښځینه مدافع وکیلانې له عدلي او قضایي سکتور څخه ویستل شوي دي. د برحاله د عدلیې وزارت د مدافع وکیلانو ریاست د ډسمبر په ۱۸ نېټه د مدافع وکیلانو د رواني ارزونې د بشپړولو لپاره د دې بهیر وروستۍ نېټه د ۲۰۲۲ کال د نومبر له ۲۱ نېټې څخه تر ۲۰۲۳ کال فبرورۍ پورې وغځوله، چې د جنورۍ تر ۳۱ نېټې پورې د ۱۵۱۹ درخواست کوونکو له ډلې یوازې ۱۲۵۰ کسانو ته د وکالت جوازونه ورکړل شول. ښځینه مدافع وکیلانو د راپور له مخې د دوی د وکالت جوازونه لا هم تمدید شوي نه دي.

۱۴. د برحاله امنیتي سکتور د مسلکي، عقیدوي او دیني روزنو له لارې د امنیتي ځواکونو پر لا زیات اصلاح باندې تمرکز ته دوام ورکړی دی. د برحاله پولیسو او استخباراتو عمومي ریاست قطعاتو د درنو او سپکو وسلو او مهماتو د نیولو او ضبطولو راپور ورکړی او د نشه اي توکو د قاچاق او کښت مخنیوي او د معتادینو درملنې په برخو کې یې د پرمختګ یادونه کړې ده. د طالبانو مشر، هبت الله اخندزاده په هلمند او کندهار کې د بیلابیلو قول اردو ګانو څخه په لیدنې او د قول اردوګانو له قوماندانانو څخه ده ته په مستقیمه توګه د راپور په ورکولو سره، په امنیتي ارګانونو خپل مستقیم نفوذ زیات کړی دی.

۱۵. د ملګرو ملتونو چارواکو او یوناما مشرتابه له برحاله چارواکو سره تعامل ته دوام ورکړی، چې ټینګار یې د ښځو او انجونو په ګډون، د بنسټیزو حقونو او ازادیو پر ساتلو او پر ټولګډونه، مشترک او ځواب ویونکې حکومتولۍ دی. یوناما او د ملګرو ملتونو همکارې ادارې په ټول هېواد کې له افغان ښځو او فعالانو سره منظمې سلا مشورې او د ښځو د سوداګرۍ او

صنایعو خونو، ښځینه متشبثینو او د برحاله د سوداګرۍ او صنعت وزارت سره ناستې کوي څو د افغان ښځینه کاروباریانو د ملاتړ پر لارو چارو بحث وکړي. یوناما د خپلو ساحوي دفترونو له لارې په محلي کچه په ۱۷۰ ناستو کې ګډون کړی او په ۱۹ ولایتونو کې یې د ټولنو سره د اړیکو جوړولو او ګډې همکارۍ ۳۲ غونډو زمینه برابره کړې ده. په یادو ناستو او غونډو کې د علماوو استازو، قومي مشرانو، ځوانانو او نورو ټولنیزو جوړښتونو ګډون کړی و څو د ښې حکومتولۍ پر اصولو بحث وکړي، کلیدي لومړیتوبونه په ګوته او د ټولنو تر منځ اړیکې لا پیاوړې کړي. د افغانستان لپاره د سرمنشي ځانګړې استازې او د یوناما مشرې د ډسمبر په ۴ نېټه له ښځینه مدافع وکیلانو سره ولیدل او د دوی د اندېښنو راکمولو پر لارو چارو یې بحث وکړ. یوناما او د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام (UNDP) په بامیان او هرات ولایتونو کې د حقوقي مرستو ازمایښتي پروژه د ډسمبر په ۲۲ نېټه پای ته ورسوله، چې د ۲۲۰ ښځو په ګډون ترې ۶۱۲ تنه برخمن شول.

## ب. امنیت

۱۶. د نومبر ۱۴ او د جنورۍ ۳۱ نېټې ترمنځ د جنګ جګړو اړوند امنیتي پېښو او ملکي تلفاتو شمېر په ۲۰۲۱-۲۰۲۲ کې د ورته مودې په پرتله زیات شوی دی. ملګرو ملتونو په یاده موده کې ۱۲۰۱ امنیتي پېښې ثبت کړې دي، چې د ۲۰۲۱-۲۰۲۲ مودې پر مهال ثبت شوو پېښو په پرتله ۱۰ سلنه زیاتوالی ښیي. ترلاسه شوې شمېرې ښیي چې وسلوالې نښتې په تېره دوره کې د ۸۱ پېښو څخه ۵۲ ته راښکته شوي، چې ۳۵ سلنه کموالی ښيي؛ هوايي بریدونه په تېر کې د یو برید په پرتله دوه بریدونو ته لوړ شوي، چې ۱۰۰ سلنه زیاتوالی ښیي؛ همدا راز د ناچاوده توکو د چاودنو شمېر په تېر کې ۵۲ په پرتله ۵۶ ته پورته شوی چې ۷ سلنه زیاتوالی ښیي او د هدفي وژنو شمېر له ۷۷ څخه ۵۸ ته راښکته شوی چې ۲۴ سلنه کموالی ښکاره کوي. اقتصادي او بشري وضعیت لا هم د خرابېدو خوا ته روان دی، چې د جرمونو زیاتوالی لامل شوی دی. په لویدیځو، سویلي او ختیځو سیمو کې د ټولیزو امنیتي پېښو ۵۸ سلنه پېښې شوي دي، چې هلمند، هرات، کندهار، کابل او ننګرهار تر ټولو ډېر زیانمن شوي ولایتونه دي.

۱۷. د وسلوالو مخالفینو بریدونه او له طالبانو سره وسلوالې نښتې راکمې شوي دي. د یوناما لخوا ثبت شوي چې درویشت (۲۳) وسلوالې ډلې ادعا کوي چې په افغانستان کې فعالې دي. د ملي مقاومت جبهې، د افغانستان د ازادۍ جبهې او د افغانستان د ازادۍ غورځنګ (چې مخکې د افغانستان د ازادۍ جبهه بلل کېده) په هلمند، کابل، کندهار، کاپیسا، ننګرهار، نورستان او پنجشیر ولایتونو کې یې د بریدونو مسؤولیت منلی دی. د برحاله امنیتي ځواکونو د ملي مقاومت جبهې د جنګیالیو په نښه کولو لپاره عملیات ترسره کړي، چې په ترڅ کې یې د ډسمبر په ۲۵ او ۲۶ نېټو په بغلان ولایت کې نظامي عملیات کړي او په پایله کې یې دغې ډلې ته تلفات اړولي چې کره شمېر یې تائید شوی نه دی.

۱۸. د اسلامي دولت خراسان څانګې یا داعش لخوا ادعا شوي یا دې ډلې ته منسوب بریدونه راکم شوي دي. ملګرو ملتونو د نومبر ۱۴ او ۳۱ نېټې ترمنځ موده کې په څلورو ولایتونو کې د دې ډلې لخوا ترسره شوي ۱۶ بریدونه ثبت کړي، چې د ۲۰۲۱ نه تر ۲۰۲۲ کال مودې پر مهال په اووه ولایتونو کې د ۵۳ بریدونو په پرتله کموالی ښیي. د اسلامي دولت خراسان څانګې د بریدونو ادعا کړې، چې په کابل کې د نومبر په ۱۷ نېټه د یو ملا امام په نښه کول؛ د ډسمبر په دویمه نېټه په کابل کې د پاکستان پر سفارت برید؛ د ډسمبر په دریمه نېټه په جلال اباد کې د یو سیک وګړي پر هټۍ چاودنه؛ د ډسمبر په ۱۲ نېټه په کابل کې پر یوه هوټل پیچلی برید؛ د ډسمبر په ۲۶ نېټه د بدخشان په مرکز فیض آباد کې د یاد ولایت د امنیه قوماندان هدفي وژنه؛ د جنورۍ په لومړۍ نېټه په کابل کې د هوايي ځواکونو پر یوه کمپ کې چاودنه او د جنورۍ په ۱۱ نېټه په کابل کې د برحاله د بهرنیو چارو وزارت په دروازه کې چاودنه په دغو بریدونو کې شامل دي.

۱۹.	په لویو بریدونو کې چې مسؤولیت یې چا په غاړه ندی اخیستی، د نومبر په ۳۰ نېټه د سمنګان ولایت په مرکز ایبک ښار کې په جهادیه مدرسه کې چاودنه او د ډسمبر په ۶ نېټه په مزار شریف ښار کې د برحاله د ګازو او پټرولیم ریاست د کارکوونکو پر لېږدوونکې بس چاودنه شامل دي. د حزب اسلامي مشر، ګلبدین حکمتیار د ډسمبر په ۲ نېټه په کابل کې په خپل دفتر کې له یوه سخت بریده روغ ووت.

۲۰.	پر پوله شخړې لا هم دوام لري. د پاکستان او افغانستان ترمنځ پر کرښه له ۱۷ تر ۱۹ پورې پېښې ثبت شوي دي. په دغو پېښو کې د پکتیا ولایت په ډنډ پټان ولسوالۍ کې د نومبر په ۱۵، ۱۹، ۲۰، ۲۱ او ۲۶ نېټو؛ د کونړ په دانګام ولسوالۍ کې د ډسمبر په ۷؛ او د ډسمبر په ۱۱ او ۱۵ نېټو د کندهار ولایت په سپین بولدک ولسوالۍ کې د دواړو لورو ترمنځ وسلوالې نښتې شاملې دي. د خوست په ځاځي میدان ولسوالۍ کې د ډسمبر په ۱۸ نېټه د دواړو لورو لخوا د هاوان مرمۍ ویشتلو پېښې راپور ورکړل شوی دی. همدا راز پولې دواړو غاړو قومي مشرانو د نومبر په ۲۷ نېټه ګډه غونډه کړې او یوه کمېټه جوړه کړې څو د پکتیا په ډنډ پټان ولسوالۍ کې د دواړو لورو ترمنځ شخړه حل کړي. د جنورۍ په ۴ نېټه راپورونه ترلاسه شول چې د ننګرهار ولایت پر ګوشتې ولسوالۍ د هاوان مرمۍ توغول شوي دي. په ورته وخت کې پاکستاني چارواکو د ګوشتې ولسوالۍ پر سلاله سیمه د هوایي بریدونو ادعاوې چې د طالبانو لخوا شوې وې، رد کړي دي. د جنورۍ په ۵ نېټه د ننګرهار ولایت په مومند درې ولسوالۍ کې پر کرښه د یوې امنیتي پېښې راپور ورکړل شوی دی. د نیمروز ولایت په کنګ ولسوالۍ کې د ډسمبر په ۸ نېټه له ایراني لوري سره د یوې نښتې راپور ورکړل شوی دی.

۲۱.	د پاکستاني طالبانو تحریک د نومبر په ۲۸ نېټه د پاکستان له حکومت سره د ۲۰۲۲ کال د مۍ میاشتې اوربند د پای ته رسېدو اعلان وکړ او خپلو جنګیالیو ته یې امر وکړ چې د پاکستاني امنیتي ځواکونو پر وړاندې خپل بریدونه له سره پیل کړي. پاکستان په وار وار د افغانستان په خاوره کې دننه فعالو ترهګریزو ډلو، په تېره بیا د پاکستاني طالبانو تحریک (TTP) لخوا دوی ته متوجه ګواښ په اړه خپله اندیښنه څرګنده کړې ده. د نومبر په ۱۷ نېټه په پکتیا او د نومبر په ۱۸ نېټه په ننګرهار کې د پاکستاني طالبانو د تحریک دوه لوړ پوړي قوماندانان ووژل شول. په پېښور کې د جنورۍ په ۳۰ نېټه په یوه جومات کې له برید وروسته د پاکستان د حکومت د څرګندونو په غبرګون کې، د برحاله د بهرنیو چارو وزیر، امیر خان متقي د فبرورۍ په دویمه نېټه وویل چې د ترهګرو مرکزونه په افغانستان کې نشته او برحاله چارواکي به هیڅکله اجازه ورنکړي چې خاوره یې د نورو هېوادونو پر وړاندې د ترهګریزو بریدونو لپاره وکارول شي.

۲۲.	واکمو چارواکو بیا هم د وسلو د تکثیر پر وړاندې مبارزې په برخه کې خپله اراده ښودلې ده. ملګرو ملتونو د نومبر ۱۴ او ډسمبر ۳۱ ترمنځ موده کې په ۱۴ ولایتونو کې د وسلو د ۲۸ زېرمو نیول او ضبطول ثبت کړي، خو برحاله چارواکو اعلان کړی چې لږ تر لږه ۳۰ د وسلو زېرمې یې نیولې او ضبط کړې دي.

۲۳.	یوناما د وړو او سپکو وسلو او مهماتو او چاودېدونکو توکو د نامشروع کاروبار، راټولولو او غیر قانوني کارونې اړوند خطرونو په اړه له اړوندو چارواکو سره ناستې او خبرې اترې کړې دي. یوناما همدا راز له برحاله چارواکو غوښتې چې په ښاري مرکزونو کې د چاودېدونکو توکو او مهماتو د ډیپوګانو خوندي مدیریت و ارزوي. یوناما د راپور ورکونې مودې پر مهال په عشق اباد، الماتي، قزاقستان او تاشکند کې د وړو او سپکو وسلو د تکثیر اړوند خطرونو په هکله د ملګرو ملتونو په درېو سیمه ایزو کنفرانسونو کې ګډون کړی دی.

۲۴.	ملګرو ملتونو د نومبر ۱۴ او ډسمبر ۳۱ ترمنځ موده کې ۶۰ داسې پېښې ثبت کړې چې د یاد سازمان پر کارکوونکو باندې مستقیمه اغېزه کوي، چې پکې ۲۶ د ګواښلو، ۹ جرمي پېښې، ۱۱ د نیونو او ۱۴ د ملګرو ملتونو د کمپونو، دفترونو او

ملکیتونو زیانمنوونکې پېښې شاملې دي. د پېښو دا ټولیز شمېر د ۲۰۲۱ نه تر ۲۰۲۲ کال پورې مودې د ۷۸ پېښو په پرتله کموالی ښیي. د برحاله چارواکو لخوا د ډسمبر په ۲۴ نېټه په انجوګانو کې د ښځو پر کار له بندیز وروسته، د ملګرو ملتونو ښځینه کارکوونکو ته له محرم پرته تګ د منع کولو لپاره د ټیلیفون له لارې اخطارونه ورکړل شوي دي. همدارنګه برحاله چارواکو په هرات، کابل، کندز او ننګرهار ولایتونو کې د ملګرو ملتونو کمپاونډونو دننه وضعیت د څېړنې لپاره د ننوتلو هڅه کړې ده.

### ج. سیمه ایزه همکاري

۲۵. سیمه ایز سازمانونه او هېوادونه لا هم له افغانستان سره څو اړخیز او دوه اړخیز تعاملونو ته دوام ورکوي. په دغو تعاملونو او ګډو بحثونو کې څېړل شوي موضوعات سیمه ایز اتصال او اقتصادي همکاري، د پولو امنیت، د ترهګرۍ پر وړاندې مبارزه، د نشه اي توکو قاچاق، ټولګډونه حکومت او د ښځو او انجونو حقونه دي.

۲۶. د سیمې هېوادونو لوړ پوړو چارواکو د نومبر په ۱۶ نېټه په مسکو کې د افغانستان په اړه د مسکو فارمټ په غونډه کې د افغانستان د سیاسي، اقتصادي او بشري وضعیت په اړه بحثونه وکړل. د دغې ناستې ګډونوالو یوه ګډه اعلامیه خپره کړه چې په کې له طالبانو د ټولګډونه حکومت د جوړولو، د ترهګرۍ پر وړاندې مبارزه کې د دوی د هڅو زیاتولو او د نشه اي توکو پر وړاندې مبارزې په برخه کې پر خپلو ژمنو دریدلو غوښتنه وشوه. د سیمې هېوادونو استازو د فبرورۍ په ۸ نېټه په مسکو کې د افغانستان په اړه یوه بله ناسته وکړه، چې په ګډه اعلامیه کې یې له برحاله چارواکو څخه د ټولګډونه حکومت جوړولو، د ترهګرۍ پر وړاندې مبارزې هڅو زیاتولو او د نشه اي توکو پر وړاندې مبارزې په برخه کې د دوی لخوا د شوو ژمنو د پوره کولو غوښتنه وکړه.

۲۷. د افغان ښځو او انجونو لپاره زده کړو ته پر لاسرسي متمرکزې یو لړ څرګندونې او غونډې شوي دي. د قزاقستان په پلازمینه الماته کې د نومبر په ۲۹ او ۳۰ نېټه د ملګرو ملتونو د ښځو څانګې او د قزاقستان د بهرنیو چارو وزارت په ګډه همکارۍ یو سیمه ایز ډیالوګ ترسره شو. په دغه ډیالوګ کې افغان مېرمنو او ځوانانو، د مرکزي آسیا ښځینه متخصصینو او سیمه ایزو مشرانو ګډون کړی و څو په افغانستان، ګاونډیو هېوادونو او سیمه کې د امنیت او ثبات لپاره د سیاسي اتحادونو په ګډون د ښځو حقونو وضعیت د ښه کولو؛ د ښځو د سرمشرېزې جوړولو او د افغان ښځو د یووالي پیاوړي کولو؛ د مدني ټولنو د سیمه ایز اتحاد رامنځته کولو؛ د ښځو د اقتصادي ځواکمنتیا زیاتولو؛ او د ښځو د حقونو لپاره د مرکزي آسیا د مدافعې پیاوړي کولو لپاره پر لومړیتوبونو بحث وکړي. د اندونیزیا او قطر حکومتونو په ګډ کوربتوب د اندونیزیا په بالي کې د ډسمبر په ۸ نېټه د افغان ښځو د زده کړو په اړه یو نړیوال کنفرانس جوړ کړ چې د بهرنیو چارو وزیرانو او سفیرانو په کچه د ۳۸ هېوادونو استازو، د سرمنشي د ځانګړي استازي په ګډون نړیوالو سازمانونو، انجوګانو او علمي شخصیتونو په کې ګډون کړی و.

۲۸. د اسلامي همکاریو سازمان سرمنشي، حسین ابراهیم طه د ډسمبر په ۲۹ نېټه د اسلامي فقهې نړیوالې اکاډمۍ باندې غږ وکړ څو د ښځو پر زده کړه د برحاله چارواکو د بندیز پرېکړې پر وړاندې په اسلامي نړۍ کې د عالمانو او مذهبي اشخاصو د یوځای کولو لپاره یو نړیوال کمپاین په لاره واچوي. د اسلامي همکاریو سازمان اجرائیوي کمېټې د سعودي عربستان په جدې ښار کې د جنورۍ په ۱۱ نېټه د افغانستان په اړه فوق العاده غونډه وکړه، چې پکې د ښځو پر فعالیتونو وروستي بندیزونه د اسلامي شریعت له اصولو څخه سرغړونه وبلل شوه.

۲۹. د سیمې د امنیت، د پولې دواړو غاړو څخه د کډوالو تګ راتګ او اقتصادي اړیکو په هکله سیمه ایزې دوه اړخیزې ناستې او ګډې همکارۍ لا هم دوام لري. د پاکستان د بهرنیو چارو وزیرې، حنا رباني کهر په مشرۍ یو پلاوی د نومبر په ۲۹ نېټه کابل ته سفر وکړ، چې په پاکستان کې د افغان بندیانو پر آزادولو او د افغان وګړو لپاره د ویزو پر ورکولو او همدارنګه سوداګرۍ او ټرانزیټ په اړه یې له افغان لوري سره خبرې اترې وکړې. د برحاله د بهرنیو چارو وزارت وویل چې دواړو لورو د مذاکراتو له لارې د اړیکو د لا ښه والي لپاره یوې هوکړې ته رسېدلي دي. د عربو متحده اماراتو حاکم، شیخ محمد بن زاید آل نهیان د ډسمبر په ۴ نېټه په ابوظبي کې د برحاله د دفاع وزیر، یعقوب مجاهد د اړیکو د پیاوړتیا، دوه اړخیزې همکارۍ او نورو دوه اړخیزو موضوعاتو باندې د بحث او خبرو اترو په موخه ولیدل. د ډسمبر په ۱۲ نېټه د برحاله د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت د معین، عبدالرحمن راشد په مشرۍ یو پلاوي په ایران کې د افغان مهاجرینو لپاره د حل لارو ستراتیژۍ د څلور اړخیزې رهبرۍ کمېټې په اتمه غونډه کې ګډون وکړ څو په خپله خوښه د افغان کډوالو راستنېدو او پایداره بېرته یو ځای کېدو او د کوربه هېوادونو سره د مرستو په هکله بحث وکړي. د افغانستان لپاره د ایران ځانګړي استازي، حسن کاظمي قمي د ډسمبر په ۲۴ نېټه کابل ته سفر وکړ او د افغان کډوالو او سیاسي او اقتصادي اړیکو په تړاو یې له چارواکو سره بحث او خبرې اترې وکړې. همدارنګه د افغانستان لپاره د روسیې د ولسمشر ځانګړي استازي، ضمیر کابلوف د جنورۍ په ۱۳ او ۱۴ نېټه د سیمې د امنیت، اقتصادي همکارۍ او د نړیوالې ټولنې لخوا د رسمیت پېژندنې پر لارو چارو د بحث په موخه کابل ته سفر وکړ. د قطر د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي، مطلِق بن ماجد القحطاني کابل ته سفر وکړ او په سیاسي، اقتصادي، پراختیایي او تعلیمي برخو کې پر وروستیو بدلونونو یې بحث او خبرې اترې وکړې.

۳۰. سیمه ایزه اقتصادي همکاري لا هم د برحاله چارواکو د اقتصادي پالیسۍ بنسټ جوړوي. د برحاله د ریاست الوزرا اقتصادي مرستیال، برادر د چین او سویلي آسیا ترمنځ د چین په کونمینګ کې د اقتصادي همکارۍ، سوداګرۍ او پانګونې شپږم نندارتون ته په انلاین بڼه وینا وکړه. د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې خونې د ډسمبر له لومړۍ نېټې څخه تر اتمې نېټې پورې په کابل کې یو نړیوال نندارتون جوړ کې، چې د افغانستان په ګډون د چین، ایران، پاکستان او ترکیې ۶۰۰ سوداګرو پکې خپل کارونه او تولیدات ننداري ته کېښودل. د برحاله د ریل پټلۍ اداري د ډسمبر په ۱۹ نېټه د ټرانس افغان ریل پټلۍ پروژې لپاره د مسیرونو پیدا کولو او د ازبکستاني او پاکستاني چارواکو سره د دې پروژې د پیل لپاره د خبر اترو اعلان وکړ. برحاله چارواکو د جنورۍ په پنځمه نېټه له یو چینایي شرکت سره په فاریاب، جوزجان او سرپل ولایتونو کې د آمو دریا نفتي حوزو د استخراج ۲۵ کلن تړون لاسلیک کړ. د برحاله د افغانستان برېښنا شرکت د ۲۰۲۳ کال لپاره له ازبکستان، تاجکستان او ترکمنستان څخه د برېښنا د تورید تړونونه په ترتیب سره د ډسمبر په ۳۱ او ۱۰ او د جنورۍ په ۲۳ نېټو تمدید کړل. د جنورۍ په ۲۴ نېټه د ازبکستان په پلازمینه تاشکند کې د اقتصادي همکاریو سازمان د وزیرانو شورا د شپږویشتمې غونډې په اعلامیه کې د یادې غونډې ګډونوالو یو ځل بیا په افغانستان کې د بیارغونې، پراختیا او ټولنیز اقتصادي پرمختګ په برخو کې د مرستې او ملاتړ ژمنه وکړه. په ورته وخت کې، د نړیوال مالي تمویل په نشتون کې لا هم د افغانستان په مرکزیت د اقتصادي پراختیا د سترو سیمه ایزو پروژو لپاره د لنډ مهاله تمو کوم څرک نه لیدل کېږي.

۳۱. یوناما لا هم له برحاله چارواکو سره د سیمه ایزې همکارۍ په اړه ګډ کار ته دوام ورکړی او کابل مېشتو د سیمې هېوادونو سفیرانو سره یې د همغږۍ د منظمو غونډو کوربتوب کړی دی. یوناما په نومبر او ډسمبر کې تاجکستان، ترکمنستان او ازبکستان ته سفرونه وکړل څو له اړوندو چارواکو او افغان فعالانو سره چې په دغو هېوادونو کې استوګن دي، خبرې اترې وکړي. یوناما همدا راز د مرکزي آسیا لپاره د مخنیوي دیپلوماسۍ په برخه کې د ملګرو ملتونو سیمه ایز مرکز سره خپلې همکارۍ

ته دوام ورکړی او د ډسمبر په ۱۱ نېټه په عشق آباد کې د یاد مرکز لخوا جوړې شوې د مرکزي آسیا هېوادونو بهرنیو چارو مرستیال وزیرانو په کلنۍ غونډه یې ګډون وکړ.

### درېیم: بشري حقونه

۳۲. د نومبر له ۱۵ څخه د جنوري تر ۳۱ پورې، یوناما د ملکي تلفاتو ۱۰۳ پېښې ثبت کړي (۲۰ تنه وژل شوي او ۸۳ ټپیان شوي دي). د لاس جوړ چاودېدونکي توکي او نا چاوده مهمات د ملکي زیان مخکښ لاملونه وو، چې ماشومان د ټولو قربانیانو نږدې درېیمه برخه جوړوي.

۳۳. د اکتوبر له ۱مې څخه د دسمبر تر ۳۱مې پورې، د څارنې او راپور ورکولو د هیواد کاري ډلې د نږدې ۲۰۰ ماشومانو پر وړاندې ۴۳۵ جدي سرغړونې تصدیق کړي. وژنه او معلولیت د ماشومانو پر وړاندې تر ټولو ډېرې عامې سرغړونې وې او د ټولو تائید شویو مواردو ۹۰ سلنه جوړوي.

۳۴. یوناما داسې قضیې ثبت کړي چې په کې د برحاله چارواکو له خوا د پخواني حکومت پر چارواکو او د افغانستان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو پر غړیو باندې، د ۲۰۲۱ د اګست په میاشت کې د اعلان شوې عمومي عفوې خلاف، بېمحاکمې وژنې، خپلسري نیونې او توقیف، او شکنجه او ناوړه چلند ترسره شوي دي؛ چې لږ تر لږه ۹ بېمحاکمې وژنې، لږ تر لږه ۱۷ خپلسري نیونې او توقیفونه، او لږ تر لږه ۹ پېښې د شکنجې او ناوړه چلند پکې شامل دي. یوناما همدارنګه داسې ورته سرغړونې هم ثبت کړې چې د ملي مقاومت له جبهې سره د تړاو په تور د برحاله چارواکو له خوا ترسره شوې وې، په ځانګړې ډول په پنجشېر ولایت کې، چې لږ تر لږه ۳ بېمحاکمې وژنې، لږ تر لږه ۴ خپلسري نیونې او توقیفونه، او لږ تر لږه ۳ پېښې د شکنجې او ناوړه چلند پکې شامل دي.

۳۵. د نومبر په ۲۳ او ۲۴ مه، د دایکنډي ولایت په سیواک کلي کې د سرپرستو امنیتي ځواکونو د امنیتي عملیاتو په ترڅ کې لږ تر لږه پنځه نارینه او درې هلکان وژل شوي او یوه ښځه ټپي شوې ده، ټول په بېمحاکمې ډول. د طالبانو برحاله ویاند ادعا وکړه چې ټول وژل شوي کسان "وسلهوال یاغیان" وو، خو د یوناما موندنې ښیي چې وژل شوي کسان د وژنې پرمهال بېوسلې وو.

۳۶. د نومبر د ۱۳مې د اعلان وروسته چې پکې د طالبانو برحاله ویاند ویلي وو چې کله د شریعت شرایط پوره شي، د حدودو او قصاص سزاګانې باید تطبیق شي، یوناما د برحاله چارواکو له خوا د قضایي بدني جزا په پلي کولو کې د پام وړ زیاتوالی ثبت کړ. دې سزاوو کې لږ تر لږه ۲۸ پېښې شاملې دي چې په ترڅ کې لږ تر لږه ۲۲۲ نارینه او ۴۲ ښځې د بېلابېلو جرمونو له امله مجازات شوي دي، لکه زنا (ناجایزه جنسي اړیکې)، "له کوره تېښته"، غلا، همجنسبازي، د الکولو څښل، درغلي او د نشه یي توکو قاچاق. ټول مجازات په دورو وهل وو. د دسمبر په ۷مه، یوناما د یوې داسې قضایي منظور شوې علني اعدام پېښه ثبت کړه (په فراه ښار کې) چې له ۱۵ اګست ۲۰۲۱ وروسته دا لومړنۍ وه. اعدام شوی کس ظاهراً د قتل په تور محکوم شوی و.

۳۷. یوناما د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د سرپرست وزارت له خوا د بشري حقونو ۶۳ سرغړونې ثبت کړې، چې د هغو کسانو پر وړاندې ترسره شوې وې چې د بېلابېلو فرامینو او لارښوونو له مخې په اخلاقي او مذهبي سرغړونو تورن شوي وو؛ پکې ښځې هم شاملې وې چې بې له محرم څخه بازار ته تللې وې یا په دې تور تورن شوې وې چې اسلامي حجاب یې نه دی

مراعات کړی، او همدارنګه نارینه سلمانیان چې د نارینه‌وو بریتونه او ږیرې یې لنډولې. سرغړونې په ناوړه چلند او شکنجې (په ځانګړي ډول وهل ټکول) او خپل‌سرو نیونو او بندونو مشتملې وې.

۳۸. سرپرستو چارواکو د هغو رسنیزو کارکوونکو او د مدني ټولنې د غړو په نښه کول ته دوام ورکړ چې د اړوندو تګلارو پر ضد یې خپل مخالفت څرګنداوه. د بېلګې په توګه، د جنوري په ۷مه په کابل کې د سرپرست عمومي استخباراتو غړو د مدني ټولنې فعال سلطان علي ضیايي ونیوه، ظاهراً د دې لپاره چې غوښتل یې د هغو وروستیو لارښوونو پر ضد لاریونونه تنظیم کړي چې د ښځو د کار او لوړو زده کړو پر لاسرسي محدودیت لګوي. د فبروري په ۲مه په کابل کې، د سرپرستو پولیسو افسرانو د پوهنتون استاد اسماعیل مشال ونیوه، هغه څوک چې د ښځو د پوهنتون تګ بندیز په اعتراض کې یې د تلویزیون په ژوندۍ خپرونه کې خپلې تحصیلي شهادتنامې څیرې کړې وې. د دسمبر له ۱۲مې تر ۲۴مې پورې، د سرپرست عمومي استخباراتو ریاست، زریفه یعقوبي او د هغې درې نارینه همکاران آزاد کړل، څوک چې د نومبر په ۳مه په کابل کې د یوې خبري ناستې پر مهال نیول شوي وو، په داسې حال کې چې غوښتل یې د ښځو د اعتراض یوه نوې ټولنه اعلان کړي. یوناما د دوي د خوشي کېدو لپاره هم په علني او هم په دوه اړخیز ډول هلې ځلې کړې وې. سربېره پر دې، یوناما ۲۸ داسې پېښې هم ثبت کړې چې د مدني ټولنې د فعالانو او د بشري حقونو د مدافعینو خپل‌سري نیونه او توقیف پکې شامل وو، او همدارنګه ۱۰ پېښې د خبریالانو او رسنیزو کارکوونکو خپل‌سري نیونې او توقیف، او ۲ پېښې د هغوی پر وړاندې د ناوړه چلند او ګواښونو.

